مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷۹** (از ۱۷ الی ۲۴ قوس ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

راه لاجورد و اهمیت آن برای افغانستان و منطقه

راه لاجورد ........ ۴

اهمیت راه لاجورد برای افغانستان ........ ۴

اهمیت راه لاجورد برای کشورهای منطقه ........ ۵

په افغانستان کې د داخلي کډوالو وضعيت او اړتياوې

داخلي کډوال ........ ۸

د داخلي کډوالی لاملونه ........ ۹

د خلکو د بې‌ځايه کېدو پايلې ........ ۱۰

د داخلي کډوالو په اړه څه کول پکار دي؟ ........ ۱۰

## مقدمه

د ملي يووالي حکومت په دوره کې د ترانزيټي سوداګرۍ د لارو متنوع کول، په اقتصادي ډګر کې د دغه حکومت له لاسته‌راوړنو بلل کېږي، چې په دې برخه کې يو ګام هم تېره پنجشنبه په هرات ولايت کې د لاجوردو لارې له پرانيستلو سره واخيستل شو او له دې لارې به سوېلي اسيا له اروپا سره ونښلول شي.

د لاجوردو لارې د پرانيستې په مراسمو کې، چې د ترکيې، ترکمنستان، ازربايجان او يو شمېر نورو هېوادونو استازو پکې برخه اخيستې وه، ولسمشر غني وويل، چې افغانستان د کابو يوې‌نيمې لسيزې وړاندې په څېر د ترانزيټ او سوداګرۍ په برخه کې نور نو له انزوا څخه راوتلی دی. خو دا چې د لاجوردو لاره په ترانزيټي او سوداګريز ډګر کې د افغانستان او سيمې لپاره څومره اهميت لري او لا هم په دې برخه کې څه ننګونې شته دي، هغه موضوعات دي چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحليل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د تحليل دويمه برخه مو په بيا په هېواد کې داخلي کډوالو او د دغو کډوالو وضعيت ته ځانګړې کړې ده. په هېواد کې امنيتي او اقتصادي ستونزې د دې لامل شوې، چې هره ورځ زرګونه افغانان د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شي. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري (اوچا) تازه راپور ښيي، چې د افغانستان نژدې نيمايي نفوس په هغو سيمو کې ژوند کوي، چې په لوړه کچه وسله‌والې شخړې او ناامنۍ پکې دي او د طبيعي افاتو او بې‌وزلۍ ترڅنګ، دغه وضعيت هم له داخلي کډوالو سره د بشري مرستو اړتيا خورا لوړه کړې ده. دا چې په هېواد کې د کورنيو بې‌ځايه شوو شمېر، وضعيت او لاملونه څه دي، هغه پوښتنه ده چې د نورو پوښتنو ترڅنګ د تحليل په دې برخه کې ځواب شوې ده.

# راه لاجورد و اهمیت آن برای افغانستان و منطقه



رئیس جمهور اشرف غنی راه تجارتی و ترانزیتی لاجورد را هفتهٔ گذشته (۱۳/۱۲/۲۰۱۸) رسماً در هرات افتتاح کرد. با افتتاح رسمی این راه، پس از مدت‌های زیادی برای نخستین بار اموال افغانی یک بار دیگر به واسطه ۹ لاری از «راه لاجورد» که اصلاً یک بخش راه تاریخی ابریشم است، به سمت ترکیه حرکت کرد.

طرح « راه لاجورد» ابتکار افغانستان است و توافقنامهٔ آن میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان در هفتمین کنفرانس ریکا (RECCA) در سال ۲۰۱۷م، میان نماینده‌گان هر پنج کشور به امضاء رسیده است.

افغانستان یکی از کشورهای محاط به خشکه است و جهت تجارت و رهایی از محتاج بودن به یک یا دو کشور منطقه، یکی از نیازهای مهم این کشور است که در این زمینه در رابطه به افتتاح راه لاجورد خوشبینی‌های زیادی وجود دارد.

پیشنهٔ راه لارجود، اهمیت این راه برای افغانستان و منطقه و این که کدام چالش‌ها و فرصت‌هادر این زمینه موجود است؟ موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث می‌کنیم.

## راه لاجورد

براساس مطالعات نهادهای مستقل، مسیر راه لارجورد یکی از مسیرهای ترانزیتی آسیا ـ اروپا است که تاریخچۀ آن به بیش از دو هزار سال می‌رسد و در اصل یکی از مسیرهای مهم راه ابریشم بوده است. در آن زمان سنگ‌های قیمتی افغانستان به شمول لاجورد از معادن بدخشان از همین مسیر به اروپا، بالکان و کشورهای سواحل مدیترانه صادر می‌شد و به همین دلیل نام این مسیر نیز «راه لاجورد» انتخاب شده است.

طرح « راه لاجورد» در سال ۲۰۱۴م به ابتکار افغانستان با کشورهای ذیدخل (افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه) درمیان گذاشته شد که از سوی کشورهای منطقه مورد توجه و استقبال قرار گرفت. راه لاجورد که از بنادر آقینه ولایت فاریاب و تورغندی ولایت هرات در افغانستان آغاز می‌شود، از مسیر بندر «ترکمن‌باشی» کشور ترکمنستان، شهر «باکو» آذربایجان و منطقۀ تفلیس گرجستان به دریای سیاه و بعداً با گذشتن از کشور ترکیه، افغانستان را به آب‌های آزاد و اروپا وصل می‌کند.

مسیر ترانزیتی و تجارتی راه لاجورد که از طریق سرک و خط آهن، افغانستان و کشورهای آسیای جنوبی را به کشورهای اروپایی وصل می‌کند، برای کشوری چون افغانستان که محاط به خشکه است، یکی از کوتاه‌ترین و مطمئن‌ترین راه‌های ترانزیتی به هدف اتصال به اروپا محسوب می‌شود و می‌توان این گام را یکی از دست‌آوردهای مهم حکومت افغانستان در رابطه به متنوع کردن راه‌های ترانزیتی و تجارتی افغانستان با کشورهای مختلف منطقه و جهان محسوب کرد.

## اهمیت راه لاجورد برای افغانستان

افغانستان یک کشور محاط به خشکه است و نیاز دارد تا برای ترانزیت و تجارت خود مسیرهای خوبی به آب‌ها پیدا کند. چالش‌های سیاسی، امنیتی و سایر مشکلات ترانزیتی در مسیر بحر هند برای افغانستان، باعث شد تا این کشور در جستجوی راه‌های بدیل برای رسیدن به بحر و ارتباط با کشورهای صنعتی و سایر کشورهای جهان شود. در این زمینه راه لاجورد یکی از بدیل‌های مهم برای افغانستان به شمار می‌رود. بنابراین، اهمیت راه لاجورد را می‌توان در چند نکتۀ ذیل بیان کرد:

**نخست**؛ راه لاجورد مسیر کوتاه، ارزان‌تر و مطمئن‌تر برای وصل شدن افغانستان به اروپا است، چون از افغانستان تا بندر ترک‌باشی و نیز از باکوی آذربایجان تا ترکیه جاده‌های خط آهن وجود دارند.

**دوم**؛ بر اساس موافقتنامۀ راه لاجورد کشورهای ذیدخل هیچ نوع تعرفه و یا محدودیتی بالای اموال افغانی نمی‌گذارند و موترهای افغانستان می‌تواند برای بارگیری و تخلیۀ اموال بدون موانع گمرکی داخل هر یک از این کشورها شوند.

**سوم**؛ راه‌لاجورد باعث کاهش وابستگی افغانستان برای انتقال اموال از راه‌های پاکستان و ایران خواهد شد و نیز از لحاظ هزینۀ انتقال اموال نسبت به راه پاکستان اقتصادی است.

**چهارم**؛ راه لاجورد یکی از مهمترین ابتکارات منطقوی است و افغانستان با دیپلوماسی فعال اقتصادی منطقوی، از مزایان آن استفاده بیشتر خواهد کرد و در راستای سیاست‌های اقتصادی حکومت وحدت ملی، جهت همگرایی اقتصادی در منطقه یک دست‌آورد مهمی نیز پنداشته می‌شود.

## اهمیت راه لاجورد برای کشورهای منطقه

با آنکه نبود امنیت و ثبات در افغانستان و منطقه، نبود اطمینان از همکاری برخی کشورها (ایران و روسیه) در عملی کردن این طرح، مهیا نبودن زمینه‌ها برای انتقال اموال و خدمات دیگر در کشورهای که می‌خواهند از این طرح استفاده کنند، چالش‌هایی اند که در برابر «راه لاجورد» قرار دارند؛ اما تعهد چین برای سرمایه‌گذاری حدود ۴۰ میلیارد دالر در این بخش، یک فرصت خوبی برای عملی شدن طرح راه لاجورد می‌باشد. همچنان بخاطری اینکه راه‌لاجورد یک چانس بزرگی برای کشورهای ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان در رابطه به کاهش وابستگی آنان به روسیه است و انجام تلاش‌های جدی این کشورها برای عملی شدن آن به هدف داشتن مشارکت با اروپا، در این زمینه یک فرصت دیگری در این زمینه به شمار می‌رود.

ترکمنستان که یکی از کشورهای ذیدخل مسیر لاجورد است، چهارمین کشور بزرگ تولید کنندۀ گاز در جهان شمرده می‌شود و نیاز دارد که برای رشد اقتصادی خود راه‌های متنوعی به خود پیدا کند. بگونۀ مثال تا کنون تنها گاز تولید شدۀ ترکمنستان به بازارهای چین، روسیه و ایران راه پیدا کرده است و این بازارها نیز همواره با برخی مشکلاتی مواجه بوده است. به همین دلیل استفاده از مسیر راه لاجورد برای رسیدن اموال ترکمنستان به اروپا، مزایای زیادی برای این کشور دارد. به همین دلیل، ترکمنستان در نظر دارد تا با استفاده از راه‌های آبی دریای خزر و دریای سیاه، خود را به یک مسیر ترانزیتی تجارت جهانی مبدل کند و از سال‌ها بدینسو در ساخت و ساز راه‌های مواصلاتی سرمایه‌گذاری می‌کند.

آذربایجان نیز یکی دیگر از کشورهای در مسیر راه لاجورد است. این کشور که زمانی مستعمرۀ اتحاد جماهیر شوروی بود، در حال حاضر از داشتن روابط بسیار نزدیک با روسیه کناره می‌رود و تلاش دارد خود را به کشورهای غرب وصل کند، به همین دلیل عملی شدن راه لاجورد برای آذربایجان نیز اهمیت خاصی دارد.

کشوری دیگر در این مسیر گرجستان است. این کشور با کشورهای آذربایجان، روسیه و از طریق بحیره سیاه با ترکیه وصل است و یک مسیر ترانزیتی خوبی برای انتقال گاز آذربایجان به ترکیه به شمار می رود، جمهوری آذربایجان، گرجستان و ترکیه برای اتصال میان همدیگر یک مجموعه‌ای از خطوط انتقال گاز، نفت و راه آهن را ایجاد کرده‌اند و برای گسترش این روابط راه لاجورد یکی از مسیرهای مهم برای این کشور پنداشته می‌شود.

علاوه این کشورها، پنجمین کشور یا آخرین کشور مسیر راه لاجورد، ترکیه است. این کشور که در صدد تبدیل شدن به یک نقطه انتقال انرژی به اروپا است، راه لاجورد برای رسیدن به هدف‌اش، یکی از مهمترین گام‌های کمک کننده شمرده می‌شود. به همین هدف ترکیه در رابطه به تطبیق پروژۀ راه لارجود و انتقال اموال از این راه به اروپا، تلاش بیشتر خواهد کرد و تلاش‌های این همه کشورها برای فعال شدن و کارگیری عملی از راه لاجورد، امیدها و خوشبینی‌هایی در رابطه به آیندۀ این مسیر را با خود دارد. پایان

# په افغانستان کې د داخلي کډوالو وضعیت او اړتیاوې



د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا اوچا (OCHA) له لوري په وروستي خپاره شوي راپور کې ویل شوي، چې سږ کال په افغانستان کې د جګړو او وچکالۍ له کبله شاوخوا پنځه نیم لکه افغانان له خپلو سیمو بېځایه شوي دي. راپور دغه راز کاږي، چې اوس‌مهال په افغانستان کې په ټولیز ډول ٦.٣ میلیونه افغانان یو ډول بشري مرستو ته اړتیا لري؛ خو په دې ډله کې ۳.۷ میلیونه یې هغه افغانان دي، چې په جدي توګه مرستو ته اړتیا لري.

په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د جګړو او طبیعي پېښو له امله، هر کال سلګونه زره افغانان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ کیږي. دغه بې‌ځایه شوي افغانان د هېواد ښارونو او یا هم نسبتاً امن سیمو ته ګډوال کېږي، چې هلته هم د ګڼو بشري اړتیاوو له کمښت سره مخ وي.

په افغانستان کې د داخلي بې‌ځایه شوو وضعیت، د بې‌ځایه کېدو لاملونه او دا چې په دې برخه کې څه کول پکار دي؟ هغه موضوعات دي چې دلته پرې بحث کوو.

## داخلي کډوال

د جګړو او طبيعي پېښو له امله په افغانستان کې د خلکو بې‌ځايه کېدل او نورو سيمو ته کډوالي، له تېرو څو لسيزو راهيسې يو ستره ننګونه ده، چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.

په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امريکا له يرغل وروسته د جګړو له امله د داخلي بې‌ځايه‌شوو افغانانو شمېره ۱.۲ مليونو تنو ته ورسېده؛ خو وروسته په افغانستان کې د امنيت له ټينګېدو سره سم دغه شمېره ٦٥٠ زره تنو ته راکمه شوه او تر ۲۰۰٦م کال پورې د افغانستان د امنيتي وضعيت د ښه‌والي له کبله د داخلي بې‌ځايه‌شوو شمېر همداسې مخ پر کمېدو و.

له ۲۰۰۷م کال وروسته د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې د ناامنۍ له زياتوالي سره سم، ورو ورو په کور دننه بې‌ځايه‌شوي کډوال هم مخ پر زياتېدو شول، چې شمېر يې د ۲۰۱۵م کال د مې تر پايه شاوخوا (۹۱٦۴۳۵) تنو ته ورسېده.

دا چې له ۲۰۱۵م کال را وروسته د افغانستان امنيتي وضعيت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو شو، په هېواد کې يو ډول سياسي بې‌ثباتي رامنځته شوه، د خلکو اقتصادي وضعيت خراب او بې‌کاري خورا زياته شوه، نو ورسره جوخت د افغانستان د ننه د داخلي ګډوالو شمېر هم زيات شو.

په ۲۰۱٦م کال کې په ټوليز ډول شاوخوا ۵۰۰ زره افغانان د هېواد دننه د جګړو او طبيعي آفتونو له امله کډوال شوي وو. دغه شمېره په ۲۰۱۷م کال کې ٦۰۰ سوه زره ته لوړه شوه او د "اوچا" اداري د وروستي راپور پر بنسټ د ۲۰۱۸م کال په تېرو ۱۱ مياشتو کې څه باندې ۳۰۰ سوه زره افغانانو يوازې د جګړو له کبله له خپلو سيمو نورو سيمو ته کډې کړې دي. په دغه راپور کې ويل شوي چې د بې‌ځايه شوو افغانانو دا شمېر که څه هم د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳٦.٦ سلنه را کم شوی دی، ځکه تېر کال په همدې موده کې ۴۸۲۹۰۹ افغان له خپلو سيمو کډه شوي وو؛ خو له يوې خوا اوسمهال د بشري مرستو اړتيا دوه چنده شوې او له بلې خوا په تېرو کلونو کې له خپلو مېنو را کډه شوو افغانانو ته خپلو سيمه ته د بېرته تګ زمينه نه ده برابره شوې. له همدې امله د تېرو کلونو پر بې‌ځايه‌شوو کال په کال نور بې‌ځايه‌شوي هم ورزياتيږي، چې په دې توګه په ښارونو کې يو نوی بحران رامنځته کيږي.

## د داخلي کډوالۍ لاملونه

په افغانستان کې د داخلي کډوالۍ د لاملونو په اړه لاندې څو ټکي د پام وړ دي:

- **جګړه:** په هېواد کې ورځ تر بلې زیاتېدونکې ناامني او وسلهوالې شخړې د داخلي کډوالۍ یو تر ټولو مهم لامل ګڼل کېږي. له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د داخلي بېځایهشوو یوه ستره برخه د هېواد په امنیتي وضعیت پورې تړلې ده. د بېلګې په توګه په ۲۰۰۱ کې کله چې د جګړې میدان ګرم و، نو داخلي کډوال هم زیاته وو؛ خو له دې وروسته بیا تر ۲۰۰٦م کال پورې کله چې امنیتي وضعیت ښه شو، داخلي کډوالي هم راکمه شوه. له تېرو څو کلونو راهیسې، په ځانګړې توګه د ملي یووالي حکومت له راتګ سره له دې امله داخلي کډوال هم زیات شول چې جګړو زور واخیست، د خلکو پر کورونو او کلیو بمبارۍ زیاتې شوې او په لرې پرتو سیمو کې سیمهییزو زورواکانو او ناقانونه وسلهوالو د خلکو ځورول پیل کړل.
- **طبیعي آفتونه:** په افغانستان کې د داخلي کډوالۍ یو بل ستر لامل طبیعي آفتونه ګڼل کېږي. د مختلفو طبیعي پېښو، لکه وچکالي، سیلابونه یا د ځمکې ښوییدنې له کبله هم د هېواد دننه یو شمېر کورنۍ داخلي کډوالۍ ته مجبورې شوې دي. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا ["اوچا"] په یوه میاشتنۍ راپور کې - چې د ۲۰۱۸ کال د اپرېل په وروستۍ نېټه نشر شوی - ویلي، چې سږکال په افغانستان کې وچکالۍ د هېواد په دوه پر درې برخې یا ۲۰ ولایتونو اغېزه کړې او کابو دوه مېلیونه تنه د خوراکي توکو له سخت کمښت او لوږې سره مخ دي.
- **فقر او بېکاري:** د افغانستان دننه د کډوالۍ یو لامل بېکاري او فقر دی. د فقر او بېکارۍ له کبله د افغانستان د مختلفو سیمو خلک د نورو ولایتونو ښارونو، په تېره بیا پلازمېنې کابل ته په دې هیله را کډه کېږي، چې په ښاري سیمو کې کاري فرصتونه زیات دي؛ خو له همدې امله په ښارونو کې نفوس زیاتېږي او د نفوس له زیاتوالي سره جوخت مختلفې ستونزې هم را پیدا کېږي.

## د خلکو د بې‌ځایه کېدو پایلې

په افغانستان کې له خپلو اصلي مېنو د افغانانو بې‌ځایه کېدل ګڼې ستونزې را ولاړوي. یو هغه ستونزې دي چې پخپله همدې داخلي کډوالو ته متوجه دي او بل هغه ستونزې دي چې د دوی له لوري ټولنې او نورو خلکو ته متوجه وي.

له خپلو اصلي مېنو کډه کېدل له یوې خوا د همدې کډوالو شته مېنې خاره کوي، هلته یې زراعت او کاروبار له منځه وړي، له بلې خوا، دغو کډوالو او د دوی اولادونو ته هم ګڼې رواني او جسمي ستونزې پیدا کوي. ځکه دوی چې د نورو سیمو له حالت سره عادي کېږي وخت نیسي او په دې توګه له زده‌کړو او نور بشري اړتیاوو هم بې‌برخې کېږي. دغه‌راز د کورنیو د سرپرستانو بې‌کاري او بې‌وزلي ددې سبب کېږي چې دوی شاقه کارونو ته مخ کړي او په ښارونو کې د خپلو کورنیو لپاره روزي پیدا کړي. همدا اوس موږ په کابل ښار کې وینو چې سلګونه ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي. دوی ډېری د هغو کورنیو غړي دي چې له نورو ولایتونو د جګړو او ستونزو له امله پلازمېنې کابل ته راغلې دي.

له بله اړخه ،په ښارونو کې هم د دغو کډوالو ډېرېدل د ګڼو ستونزو د را پیدا کېدو لامل کېږي. د ښارونو ظرفیت کم دی او د نفوس ډېرېدل د دې سبب کېږي چې په ښارونو کې برېښنا او اوبه کمې شي او صحي ستونزې زیاتې شي. دغه راز د نفوس د زیاتوالي له امله امنیتي وضعیت په سمه توګه نه کنټرولیږي او په پایله کې یې جنایي پېښې زیاتېږي.

## د داخلي کډوالو په اړه څه کول پکار دي؟

په روانو حالاتو کې د جګړو او تاوتریخوالي او دغه‌راز د وچکالۍ له امله ګڼو افغانانو د ژوند کولو اساسي اسانتیاوې له لاسه ورکړې دي، بشري اړتیاوو او خدمتونو ته لاسرسی محدود شوی چې له امله یې دوی له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ژمي له را رسېدو سره ورځ تر بلې هوا سړېږي او که چېرې اړمنو کسانو ته مرستې ونه رسېږي، ممکن له سخت حالت او ستونزو سره مخ شي، پر همدې اساس اړتیا ده چې افغان حکومت د هېواد دننه بې‌ځایه‌شوو وګړو د ژوند خوندیتوب امکانات برابر کړي. د دې تر څنګ اړتیا ده چې افغان پانګه‌وال وهڅول شي، څو د مرستو ترڅنګ د بیځایه شوو لپاره کاري فرصتونه هم برابر کړي.

پر دې سربېره اړتیا ده چې افغان حکومت د بې‌ځایه‌شوو وګړو د اصلي سیمو امن کولو په برخه کې لاس په کار شي؛ بې‌ځایه‌شوو افغانانو ته بېرته په خپلو کورونو او سیمو کې د ژوند کولو زمینه برابره کړي. له دې سره به نه یوازې دا چې د داخلي کډوالو ستونزې حل شي، بلکې په ښارونو کې به هم د ګڼو ستونزو مخنیوی وشي.

له دې ټولو سره سره که څه هم افغان حکومت له بېځایه‌شوو کورنیو سره د همکارۍ او لاس نیوي په خاطر له کافي بودیجې سره مختلفې اداري لري او دغه اداري سره له دې چې له بېځایه‌شوو سره په مختلفو برخو کې مرستې کوي؛ خو د نورو دولتي ادارو په شان دغه اداري هم له فساد څخه پاکې نه دي او له همدې امله ډېری وخت مرستې اړمنو کسانو ته نه رسېږي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com